# میرعلي؛ د خوارجو یو بل ځانمرګی برید ناکام شوی

د میرعلي په مضافاتو مچي خېلو کې خوارج په ریکشا کې د ځانمرګي برید هڅه کړې وه، چې د امنیتي ځواکونو لخوا په وخت پېژندنه او ځوابي کاروايي سره ناکامه شوې وه، په داسې حال کې چې خوارج د دروغو ادعاوو په کولو سره د خپلې ناکامۍ د پټولو هڅه کوي۔

**د تفصیلاتو له مخې، په ریکشا کې سپور ځانمرګي بریدګر هڅه کوله چې د امنیتي ځواکونو پوسته په نښه کړي، امنیتي ځواکونو په خورا منظمې ستراتیژۍ سره د ځانمرګي بریدګر مخه ونیوله، چې په ترڅ کې یې ځان ته چاودنه ورکړه۔**

**د چاودنې په پایله کې څلور تنه بې ګناه مسافر لږ ټپیان شوي، چې د پاکستان د پوځ لخوا ورته طبي مرستې ورکړل شوي دي۔ په ناکام برید کې د امنیتي ځواکونو ټول منسوبین خوندي وو۔**

د امنیتي ځواکونو په وړاندې له پرله پسې ماتې وروسته، بزدل خوارج مجبور دي چې په خپل لګښت ناکام ځانمرګي بریدونه وکړي۔

خوارج په میدان کې له امنیتي ځواکونو سره د مبارزې توان نه لري، له اسلامي لارښوونو سره په ټکر کې ځانونه دوزخ ته اچوي او هم بې ګناه خلک په نښه کوي۔ دا د شریعت ضد او د سولې دښمنان په لوی تعداد کې خپل انجام ته رسیږي، الحمدلله